# د سعودي حکامو ړوند ليدلوری




**خبر:**

د سعودي پاچا سلمان او وليعهد محمد بن سلمان د شنبې په ورځ په هغو مراسمو کې چې د يوه پراخ تفريحځای د بنسټ د ډبرې ايښودلو لپاره نيول شوي وو، ګډون وکړ. دا ډول هڅې د هغو سترو هيلو او ستراتيژيو زړه ګډل کېږي، چې سعودي حکام يې د اقتصادي ودې او ټولنيزو محدوديتونو د لرې کولو په موخه ترسره کوي.

قديه شاوخوا يو ساعت له رياض څخه لرې موقعيت لري، دا ځای به په ۳۳۴ (۸۴۰۰ ايکړ) کيلومتره مربع سيمه کې، چې له ډيزني نړۍ (Disney World) څخه شاوخوا دوه چنده پراخ ده، جوړېږي.

په دې تفريحځای کې شپږ بيرغ لرونکي پارکونه، د اوبو پارکونه، د موټرونو د ځغاستې ځای، کلتوري سيمې او تفريحي کورونه جوړېږي. د يو دولتي وياند په خبره قديه به په کال کې يونيم ميلون سيلانيان را جلب کړي او د لومړي پړاو پرانيسته به يې په ۲۰۲۲م وي.

د ځايي رسنيو د راپور پر بنسټ، يوازې د دې د بنسټ لګښت شاوخوا ۳۰ ميلياردو ريالو ته رسېږي، چې نږدې له اته ميلياردو ډالرو سره برابر دی او ټوله پروژه به لسګونه ميلیارده رياله ارزښت ولري. (رويټرز- ۲۹/۴/۲۰۱۸)

**تبصره:**

سعودي عربستان له کلونو، کلونو راهيسې د اسلامي نړۍ د يوې محافظه کاره او ساتونکي ځېرې په شان رول لوبولی خو اوس د ځان مډرن ښودلو لپاره او له تفريح سره د مينه لرونکي ولس په توګه ستر ګامونه اخلي، خو دغه ولس لا له وړاندې له اسلامي اصولو سره سم د مذهبي دستورونو او ملايانو له لورې په ړښتينې توګه نه و مهار شوی.

د ۲۰۱۸م په اپرېل مياشت کې سعوديان د ځان مډرن ښودلو په موخه وتوانېدل، چې په رياض کې د عربي ټنګ ټکور په ګروپي کانسرټ کې برخه واخلي، چې د مصري نندارو جوړوونکي کور(Egyptian Opera House) له لورې جوړ شوی و او ورپسې يې په پلازمېنه کې د هاليوډ تازه فلم، غچ اخستونکی(Avergers)

پرانیسته، چې له نړیوالې پرانیستې سره سم په ریاض کې ننداري ته وړاندې شو او بیا د «WWE» تر ټولو لویې ځانګړې شاهي سیالۍ وې، چې په جده کې د پاچا عبدالله په ورزشي ښاري لوبغالي کې وشوې.

د سعودي وروستي اقتصادي پلانونه (Disneyland) داسې مهال وړاندې کېږي، چې سعوديان له هیواد څخه بهر په کال کې د تفریح او سیاحت لپاره نږدې ۳۰ میلیارده ډالره لګوي. له دغه ډول پروژو څخه تمه کېږي چې نوې دندې به پیدا شي او کورنیو ته به د دې موکه برابره شي، چې د بهر پر ځای په کور دننه کې له تفریح څخه خوند واخلي.

لکه څرنګه چې اوس مهال پاملرنه یوازې تفریح او سیاحت ته اړول شوې، نو محمد بن سلمان غواړې چې د سعودیانو پیسې په کور دننه کې ولګېږي او په ورته مهال غواړي چې د دغه فاسد نظام شتون ډاډمن کړي، ترڅو د تفریح او سیاحت د دروغجن احساس پر مټ خلک بوخت او په خپله ولکه کې یې راولي. د سعودي حکام تل له هر راز سیاسي بدلون څخه په وېره کې دي. په تېر وخت کې،هغوی د اسلام له افراطي تفسیر څخه په ګټه اخسیتنې دغې موخې(خلک بوختول او په خپله ولکه کې راوستلو) ته کار کاوه او اوس داسې برېښي چې د اسلام له سطحي تفسیر څخه په دې برخه کې کار اخلي.

پر لوړ معیار ژوند کول، د صنعت په برخه کې د کاري فرصتونو د کموالي له امله او پر بهرني ارزانه اجیرانو باندې تکیه هغه څه دي، چې سعودي عرب یې اقتصادي بدلون ته اړ کړی او د خپلو خلکو د لیدلورې بدلون ته اړتیا ویني، خو سعودي وګړي د لوېدیځ په څېر داسې تفریح او خوشحالۍ ته اړتیا نه لري، چې اسلام تل د امریکا په چوپړ کې راولي او په مرسته یې دوی د رژیم له وحشتونو ځان وژغوري.

دغه امت داسې دندو ته اړتیا لري چې د صنعت د ریښیتنې پرمختګ په پایله کې لاس ته راغلې وي؛ نه هغو ته چې د لوېدیځ د مصرفونکې مفکورې په پایله کې له پور اخستنې څخه منځته راغلې وي. نن ورځ له سیاحت او تفریح څخه د امت د انحطاط او زوال په موخه ګټه اخیستل کېږي. د دغو موخه دا ده چې له اوسنې خواشینونکې حالت څخه د امت پام بل لورې ته واوړي، د مزدورو حکامو له لوري د امت سرچینې لوټې کړي او تل پر لوېدیځ تکیه وي. امت اوسمهال پر ځان بسیا اقتصاد ته اړتیا لري، چې پر لوېدیځ او د لوېدیځ د مودېرنیزم پر مفکورې پورې تړلی نه وي.

دا امت یوه موخه لري او هغه د اسلامي ایډیولوژۍ پر مټ اسلام بشریت ته رسول او د هغوی مشري کول دي، ترڅو له دې لارې د بشر ستونزې حل کړي او خلک له بې ځایه وخت تېرولو څخه واقعي موخې ته را وګرځوي. که د الله خوښه وي، انحراف او انحطاط به زموږ ربښتینولي او ربښتینې موخه بدله نه کړي. پر نبوي منهج د خلافت تاسیس هغه لید لوری دی چې امت ورته اړتیا لري، نه د محمد بن سلمان ړوند لید لوری.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: نازیه رحمان**

**۱۴۳۹هق، د شعبان ۱۶ مه**

**۲۰۱۸م، د مې ۲ مه**

**ژباړن: عبدالله لطفي**